PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

هر څوک چې یو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا یې له فساده په ځمکه کې ووژني نو ګواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چې دغه یو نفس ژوندی کړي نو ګواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.

(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو هریره (رضی الله عنه) روایت است که رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: ((سوگند به ذاتی که جانم در دست اوست، کسی از شما نمی تواند مؤمن باشد، تا زمانی که من (پیامبر (صلی الله علیه وسلم)) نزد او از پدر و فرزندش محبوب تر نباشم.))

(صحیح البخاری)

شهادت پنځم کال، ۳۳ مه ګڼه، پرله پسې ۲۳۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د مرغومی ۳ مه د۱۴۳۵ هـ ق د صفر المظفر ۲۰ مه د۲۰۱۳ م د دسمبر ۲۴ مه

افغان حکومت:

راتلونکې ټاکنې به له مهال وېش سره سمې ترسره شي

خو د افغانستان د ټاکنو کمېسیون وایي دوی د امنیتي اندېښنو له امله تر اوسه نه دي توانیدلي چې د افغانستان په څلورو هغو ولسوالیو کې پر خلکو د رایو کارتونه ووېشي چې وېل کېږي د نفوسو له کبله ډېر وګړي په کې ژوند کوي

کابل، رسنی:

افغان حکومت وایي امنیتي ځواکونه چمتو دي چې د راتلونکو ټاکنو د خوندي ترسره کېدو لپاره له خپل ټول ځواکه کار واخلي او ټاکنې به له ټاکل شوي مهال وېش سره سمې ترسره شي.

په همدې حال کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې لا هم دوی نه دي توانېدلي په څلورو ولسوالیو کې پر خلکو د رایو کارتونه ووېشي.

په افغانستان کې د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره چې د وري په ۱۶مه ترسره کېدونکې دي شاوخوا دري میاشتې وخت پاتې دی، خو خلکو سره یې په اړه شته اندېښنې په خپل حال پاتې دي.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت وایي د هغو هڅو له مخې چې دوی په افغانستان کې د راتلونکو ټاکنو د خوندي ترسره کېدو لپاره کړي ډاډمن دي چې دغه ټاکنې په خوندي توګه په خپل وخت ترسره شي.

د وزارت ویاند صدیق صدیقي په یوه خبري ناسته کې ...

(۴ مخ)

بر اساس یک نظرسنجی جدید؛

دکتور عبدالله عبدالله در جایگاه نخست کاندیداهای ریاست جمهوری قرار دارد

نهاد پژوهشی ای تی آر و طلوع نیوز در دوهفتهٔ اخیر از باشنده گان ۳۴ ولایت کشور در بارهٔ نامزدان برتر انتخابات ریاست جمهور پرسیده اند. این نظر سنجی نشان می‌دهد که سهم مردم در روند انتخابات نسبت به دو ماه پیش بیشتر شده است.

در حالی که در این نظر سنجی ۲۸ درصد شرکت کننده گان که از آنان سوال شده بود، گفته بودند که نامزد برتری وجود ندارد و یا نمی دانستند که کدام نامزد بهتر است، اما در این نظر سنجی این رقم به ۳۶ درصد کاهش یافته است.

بربنیاد این نظر سنجی، داکتر عبدالله عبدالله با ۲۷ درصد در جایگاهٔ نُخست، داکتر اشرف غنی احمدزی با ۱۹ درصد درجایگاهٔ دوم و قیوم کرزی با ۴ درصد جایگاهٔ سوم را گرفته اند.

درین نظر سنجی تیلفونی از بیشتر از دو هزار شهروند کشور از ۳۴ ولایت کشور شرکت داشتند. گفته می شود

(ص ۴)

صدراعظم ترکیه می گوید، دست مخالفان را می شکند

ترکیه، رسانه ها:

رجب طیب اردوغان صدراعظم ترکیه روز یکشنبه در جریان سخنرانیش برای جمعیت هواداران حزب ترقی و عدالت اظهار داشت، اگر مخالفانش از رسوایی فساد اداری برای ضعیف ساختن حکومت وی استفاده کنند، وی به شدت عکس العمل نشان خواهد داد.

رجب طیب اردوغان گفت:

"کسانیکه خیال ضرر رسانیدن را دارند، یا می خواهند به این کشور ضرر برسانند و دام بنشانند، ما این دست ها را خواهیم شکست."

این اظهارات وی بعد از آن صورت می گیرد که پولیس در شهر استانبول در برابر تظاهر کننده گانی که خواستار

(ص ۴)

حامد کرزی:

امریکا د امنیتي سند مهم شرط منلی

د امنیتي سند لاسلیک لپاره دې امریکا په عملي ډول د سولې بهیر پیل کړي او کله چې دغه شرط ومنل شو، نو دواړه هېوادونه به دغه سند لاسلیک کړي

کابل، رسنی:

ولسمشر حامد کرزی وایي، د کابل او واشنګټن ترمنځ د امنیتي تړون لاسلیک لپاره امریکا د ده هغه شرط منلی چې د خلکو کورونه به نه تلاشي کوي.

خو ښاغلي کرزي، چې په ارګ مانۍ کې یې له خبریالانو سره خبرې کولې، ټینګار کاوه چې امریکا باید په عمل کې ثابته کړي، چې د خلکو کورونو ته به نه ورځي.

د امریکایي ځواکونو له خوا د خلکو کورونو ته تلاشي کول او د سولې بهیر عملي پیل هغه شرطونه دي، چې د دغه سند لاسلیک لپاره ولسمشر کرزي امریکا ته ایښې دي. نوموړي وېل،...

(۴ مخ)

در همهٔ حال باید مدافع منافع ملی خود باشیم

فدا محمد فایض

حقیقت آن است که غربیها در دوستی بتناسب روسها هم خیلی ضعیف اند؛ زیرا غربیها کشورهای غریب را کاملاً برده و غلام خود فکر میکنند و میخواهند خیلی ناجوانمردانه همه دار و ندار آنها را به یغما ببرند. این حقیقت را ما امروز در کشور خود بچشم سر مشاهده میکنیم. خیلی از هموطنان ما همینکه چند ساختمان را در شهر کابل و دیگر شهرهای بزرگ افغانستان می بینند، فکر میکنند این همه از سخاوت حاتمانهٔ غرب است، در حالی که چنین نیست و این همه را مردم ما از پول خود ساخته اند. جامعهٔ بین المللی در همه عرصه ها کلوخ را در آب گذاشت و از سر آن گذشت و در دوازده سال گذشته یک پروژه اساسی و حیاتی را برای افغانستان عملی نکرد؛ پولی را هم که کمک کرد هشتاد در صد آن در هوا دورزد و به منبع اصلی خود برگشت.

(ص ۲)

ننګرهار کې د انسان تښتوونکو ۱۳ کسیزه ډله نیول شوې

ننګرهار، رسنی:

د افغانستان د ملي امنیت اداري ویلي، چې په ختیځ ننګرهار ولایت یې د سرې تښتوونکو یوه ۱۳ کسیزه ډله نیولې ده.

سرچینې ویلي، چې دغو کسانو د ډېرو خلکو په تښتولو کې لاس درلود، چې چې به وینا یې په "ډېره ماهرانه توګه" یې خلک تښتول.

(۴ مخ)

افزایش علاقه‌مندی مردم افغانستان به شرکت در انتخابات آیند

Democracy International

کابل، رسانه ها:

یک نظرسنجی تازه در افغانستان حاکی است که علاقه‌مندی مردم به شرکت در انتخابات ۱۳۹۳ افزایش یافته است.

موسسه بین المللی موسوم به "دموکراسی بین الملل" این نظرسنجی را ...

(ص ۴)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د افغانستان مسلمان ولس دی د ملي وحدت په تامین کې خپل اسلامي او ملي مسؤولیت ترسره کړي

له اوږدې مودې نه د افغانستان د خلکو له اسلامي ګوندونو څخه یوه لویه غوښتنه دا هم وه چې پخپلو کې دې سره متحد او یو موټي شي. نږدې دوه میاشتې وړاندې حزب اسلامي، جمعیت اسلامي او حزب وحدت ګوندونو د خپل مسلمان اولس ددغه ستر ارمان د پوره کولو په موخه پخپلو کې د اتحاد او یووالي اعلان وکړ او ژمنه یې وکړه چې لدې وروسته به د افغانستان په ټولو ملي او بین المللي قضایاو کې ګډ دریځ نیسي او په راتلونکو انتخاباتو کې به ګډ کمپاین پرمخ وړي.

دغه درې ګوندیزه اتحاد تر وروستني وسه کوښښ کوي چې نور اسلامي ګوندونه هم په دغه اتحاد کې د شریکیدو لپاره چمتو کړي، ان شاء الله هغه ورځ هم لرې نه ده چې ټول اسلامي نهضتونه په یو صف کې ودرېږي او خپلې ټولې هلې ځلې په منسجم ډول پرمخ یوسي. کیداشی شي زموږ ورونو پخپله محسوس کړې وي چې دغه اتحاد د اسلام او د اسلامي نهضتونو د دښمنانو د سترګو اغزې ګرځیدلې او پرخلاف یې زهرجن تبلیغات کوي. له ټولو ورونو څخه هیله کېږي چې د دښمنانو په وړاندې کلک مقاومت وښیی او په پوره هوښیاری ورته غابښ ماتوونکی ځواب ووایي.

د اسلام او اسلامي ګوندونو دښمنان چې کله هم مسلمانان د اتفاق په صف کې ولاړ لیدلي دي؛ نو دومره ناراحته شوي لکه چې په سرو سکروټو ولاړ وي. د مسلمانانو دغه دښمنان اوس هم غلي ناست نه دي، او تر آخري توانه کوښښ کوي چې د مسلمانانو ترمنځ د بې اتفاقي تخمونه وشیندي؛ نو ځکه پکار دي چې له اسلام او هېواد سره مینه لرونکي افغانان ټول دهغوی ددغو غلطو تبلیغاتو د خنثی کولو په مقصد د اتحاد په فولادي صف کې ودرېږي او پخپلو سیمو کې ددغه اتحاد د پیاوړتیا او غښتلي کولو لارې چارې پکار واچوي؛ مجلسونه او غونډې جوړې کړي او د اسلام په سپیڅلی دین کې د مسلمانانو ترمنځ د اتحاد او همغږۍ پر اهمیت رڼا واچوي او دهغه مادي او معنوي ګټې ورته پر ګوته کړي، په ځانګړی ډول په اوسنیو حساسو او نازکو شرایطو کې چې افغانستان له یو عالم داخلي او خارجي کشمکشونو سره لاس او ګریوان دی د افغانستان د مسلمان ولس ترمنځ اتفاق له بل هر وخت نه زیات ضروري دی؛ ځکه چې یواځې د افغانانو یووالې او همغږۍ د یو با ثباته، پرمختللی، مستحکم او خپلواک افغانستان ضمانت ورکولې شي نه بل څه، دا چې د افغانستان درې غټو اسلامي ګوندونو د خپل اسلامي او ملي مسؤولیتونو له مخې په بشپړ صداقت پخپلو کې د اتحاد او یووالي لاسونه ورکړي دي؛ نو په پوره یقین سره ویلی شو چې ددوی دغه اتحاد به د افغانستان د خاورې او ولس لپاره د ښه خدمت تر ټولو ستره مرجع او محور وي. فلهذا د افغانستان د استحکام او ملي وحدت مینه وال دی هم د خپل اسلامي او ملي مسؤولیت له مخې ددغه اتحاد په غښتلي کولو کې بشپړه ونډه واخلي. د افغانستان په ګوټ ګوټ کې دې علماء، لیکوالان، ادیبان، شاعران، استاذان او سپین ږیري ټول په منظم او منسجم ډول خپل خپل استعدادونه پکار واچوي او خلک دېته چمتو کړي چې نه یوازې ددغه اتحاد تر شا ودرېږي؛ بلکې په ولسمشریزو ټاکنو کې د ګډون او د خپلو آراو د استعمال لپاره د رایو صندوقونو ته لاړ شي او په دې توګه د خپل ایماني او ملي مسؤولیت په ترسره کولو سره په راتلونکي وخت کې افغانان د یو داسې غښتلي حکومت او نظام خاوندان کړي چې د خپل برخلیک د ټاکلو حق هم پخپل لاس کې ولري.

در همه حال باید مدافع منافع ملی خود باشیم

فدا محمد فایض

بدون شک در نتیجهٔ قوانین بین المللی، ارتباطات کشورها در عرصه های مختلف زندگی و پیشرفت ساینس و تکنالوژی، موجودیت رادیو، تلویزیون، تلفون، رسانه های چاپی جهان را به یک دهکده مبدل نموده است و هیچ کشوری نمیتواند درین دهکده به تنهایی زندگی کند؛ ولی باوجود این هم هر کشور از خود ارزشها و منافع ملی خود را دارد و از آن دفاع میکند و هیچ کشور حاضر نیست که منافع خود را درنظر نه داشته است، اگر همکاریهایی در بخش امنیت دارند هیچکس از منافع خود گذشتنی نیست، هکذا در سایر بخشها. ما در زبان پشتو ضرب المثل بسیار خوبی داریم:

((وروری به کوو؛ حساب ترمنځ))

ما با هر کشوری خواسته باشیم میتوانیم روابط دپلوماتیک، اقتصادی، تجاری، در بخش تعلیم، در بخش صحت، در بخش زراعت وغیره داشته باشیم؛ ولی باید بهمه حال منافع خود را درنظر بگیریم. با کمال تأسف یک عده از هموطنان ما بجای آنکه به منافع ملی خود بیندیشند به منافع دیگران فکر میکنند، اگر دولت در خیلی موارد تساهل میکند و یا در مورد خیلی مسایل اغماض میورزد، بدون شک که قابل انتقاد است این حق شرعی ماست، حق قانونی ماست و حق انسانی ماست. که آنرا انتقاد کنیم؛ زیرا حضرت سعدی (رح) میگوید: ((سخن متکلم را تا کسی عیب نگیرد سخنش صلاح نپذیرد.)) بدون شک فلسفهٔ اساسی انتقاد اصلاح است، انتقاد باید باشد ولی برای اصلاح نه برای تخریب شاید خیلی از دوستان، خیلی از رسانه ها در مواردی چشم بسته و کورکورانه انتقاد کرده باشند، بدون آنکه حقیقت را دریافته باشند، چرا یک عده هموطنان ما منافع خود را فدای منافع دیگران میکنند، بخاطری که آنها متأسفانه اعتماد بر خویشتن را از دست داده اند و همیشه منتظر خوان کرم دیگران اند؛ ولی فراموش کرده اند که خوان کرم دیگران هم مفت و رایگان نیست. روسها بخاطر تحقق اهداف و آرمانهای دیرین خود به افغانستان آمدند (۱۳۵۸) و حزب دموکراتیک و اعضای این حزب را هم غرض تحقق اهداف خود استعمال کردند و آنها هم خیلی غلامانه و مزدورانه در رکاب شان دویدند؛ ولی زمانی که روسها درک کردند که دیگر ماندن در افغانستان به نفع شان نیست افغانستان را برای خود ((زخم خونین)) خواندند و تصمیم به خروج از افغانستان گرفتند. با آنکه سران حزب و نظام کمونیستی به سردمداران کرملین عذر کردند که آخر ما را برای کی رها میکنید؛ جواب آنها این بود که شما برای تأمین امنیت خود خواه هر چه میکنید مربوط به شماست؛ ولی ما تصمیم به برآمدن از افغانستان گرفته ایم.

حقیقت آن است که غربیها در دوستی بتناسب روسها هم خیلی ضعیف اند؛ زیرا غربیها کشورهای غریب را کاملاً برده و غلام خود فکر میکنند و میخواهند خیلی ناجوانمردانه همه دار و ندار آنها را به یغما ببرند. این حقیقت را ما امروز در کشور خود بچشم سر مشاهده میکنیم. خیلی از هموطنان ما همینکه چند ساختمان را در شهر کابل و دیگر شهرهای بزرگ افغانستان می بینند، فکر میکنند این همه از سخاوت حاتمانهٔ غرب است، در حالی که چنین نیست و این همه را مردم ما از پول خود ساخته اند. جامعهٔ بین المللی در همه عرصه ها کلوخ را در آب گذاشت و از سر آن گذشت و در دوازده سال گذشته یک پروژه اساسی و حیاتی را برای افغانستان عملی نکرد؛ پولی را هم که کمک کرد هشتاد در صد آن در هوا دورزد و به منبع اصلی خود برگشت. ما امروز در تمام کشور حتی به سطح کابل یک شفاخانهٔ قابل حساب نداریم و این جامعهٔ بین المللی بحال ما هیچ توجه نکرد، یک بند برق اعمار نشد در حالی که آب فراوان ما به کشورهای همسایه سرازیر میشود. در بخش تولیدات زراعتی هنوز هم دست ما به کشورهای همسایه و منطقه دراز است، اگر یک هفته آرد از پاکستان و کشورهای آسیای میانه به افغانستان وارد نشود باز خواهید دید که قیمت آرد به اصطلاح با آسمان سخن میزند. نبود برق باعث شده است که ما نتوانیم کارخانه های مورد نیاز خود را داشته باشیم، کارخانه هایی هم که در شهر هرات و دیگر شهرها جدیداً احداث شد یا از فعالیت باز ماند و یا فعالیت آن کاهش قابل ملاحظه یی یافت؛ ولی با این هم متأسفانه خیلی از جوانان ما، خیلی از افراد با سواد ما، به اصطلاح سیاستمداران، روشنفکران و نخبه گان ما بسوی از خود بیگانگی رفتند، همیشه از منافع دیگران دفاع کرده اند، کسی که منافع شخصی خود را در نزدیکی و همفکری با غرب میبیند از غرب به دفاع بر میخزد، اگر منافع خود را با دوستی با همسایه ها و کشورهای منطقه گره خورده می بیند، از منافع آنها دفاع میکند و این خیلی شرم آور و تأسف آور است. کشورهای غربی از آن گوشهٔ دنیا آمده اند و منافع استراتیژیک خود را در بین دود و آتش و خاکستر کشور ما جستجو میکنند؛ ولی ما از منافع خود بی خبرهستیم و در برابرش بی تفاوت هستیم. به خداوند سوگند هیچکس از غلامی خیری ندیده است. بقول اقبال بزرگوار:

از غلامی دل بمیرد در بدن
و از غلامی روح گردد بار تن
از غلامی بزم ملت فرد، فرد
این و آن، با آن و این اندر نبرد

و باز هم این حرف اقبال:

مذهب زنده دلان خواب پریشانی نیست
از همین خاک جهان دگری ساختن است

بیایید در زندگی خانوادگی خود نظری بیفگنیم، حتی پدر نمیتواند برای تمام عمر پسرش بار شانه اش باشد، پس از کشورهایی که به من و تو چشم دوخته اند که چگونه آن قرص نان خشکی را هم از روی ما بردارند پس چگونه میشود به آنها دل بست، به آنها اعتماد کرد، و دل خود را در کف آنها نهاد.

حرف من متوجه آنانی هم هست که به مصداق ((بی بی سیر؛ همه سیر)) همه چیز را به میزان سیری شکم خود می سنجند که دیگر به هوش آیند و سیری شکم خود را ملاک و معیار قضاوتهای خود ندانند؛ بلکه این ملت فقیر و هردم شهید را هم از نظر دور نیندازند، و بر این باور داشته باشند که هیچکس بخاطر خدا به کمک ما نه شتافته است؛ بلکه منافع خود شان آنها را دیوانه ساخته و از اقصای کرهٔ زمین آمده اند و در کشور ما بارو بنه انداخته و در خاک و خاکستر وطن ما گمشده های خود را می پالند؛ ولی آنانی که احساس دارند، ضمیر و وجدان بیدار دارند، شعور دارند، عقل دارند متوجه باشند که دشمنان ما در لباس دوستی میخواهند اجساد ما را هم به دریا بیندازند و از تابوتهای خالی شدهٔ ما هم به نفع خود کار بگیرند. عقل بخاطر همین است که ما خوب و بد را تمییز کنیم، عاقلانه نخواهد بود که هر کار ناصواب را تأیید کنیم، و با هر کار صواب مخالفت بورزیم؛ بلکه آنچه بنفع است از آن پشتیبانی کنیم و آنچه به ضرر است بمقصود اصلاح بر آن اعتراض کنیم.

د اسلامي حرکتونو بدیل، پخپله اسلامي فکر دی؛ نه کومه انحرافي فکري تګلاره

مؤمن افغان

په ۱۹۲۴ کال د عثماني خلافت سره له دې چې ډیرې تشې یې هم درلودې؛ خو د اسلام د بیرغ د اوچتولو او اسلامي امت د یو کولو پر جرم د نړیوال استعمار د یوې ګډې توطیې په نتیجه کې چې د یهودو هم په کې لوی لاس و، له سقوط سره مخ شو او ځای یې یوه سیکولر نظام ونیوه چې تر ننه پورې یې په یوه ډول نه یو ډول لړی روانه ده، هلته چې د سیکولر نظام په دوران کې د اسلام او مسلمانانو د ستونې د خفه کولو له پاره کوم اقدامات وشول، هغه هم د تاریخ برخه ده.

د عثماني خلافت له سقوط نه وروسته په ډېر لږ زمانی واټن کې د امام حسن البنا (رح) په لاسو د یوه اسلامي حرکت تاداو کېښودل شو چې د اخوان المسلمین په نامه ونومول شو. دی حرکت کاملا یوه سوله ییزه او دعوتي مبارزه پیل کړه. امام حسن البنا به حتی د بایسکل پر سپرلی او پیاده د مصر کلیو او بانډو ته ورته خلک به یې د اسلام له مزایاو او د استعمار له خطرونو خبرول. دا چې هغه مهال نه یواځې پر مصر بلکې پر ټول منځني ختیځ، د لویدیز استعمار خپسې منګولې لګولې وې. هغه حرکت چې امام بنا یې په مصر کې تاداو ایښی و، ډېر ژر د مصر له پولو واوښت او په ټوله عربي نړی کې یې ځانته ځای پیدا کړ. دا چې د امام دعوت هم واکمنې دستګاه او هم لویدیز استعمار ځان ته لوی خطر باله؛ نو د امام حسن البنا د شهادت پریکړه یې وکړه او هغه یې په ډېره ناځوانمردانه توګه شهید کړ؛ خو هغه دعوت چې هغه پیل کړی و او هغه غږ چې هغه پورته کړی و، هېڅکله غلی نه شو؛ بلکې د دعوت دا غږ نور هم پسې لوړ شو؛ ملک فاروق، جنرال نجیب، جمال عبدالناصر، انورالسادات او حسنی مبارک پر مسلمانانو چپه مېچنی وګرځولې، ناصر د عصر لوی مفسر حضرت استاد سید قطب شهید کړ، د عصر لوی حقوقپوه عبدالقادر عوده، ډاکتر کمال سنانیری او نور لوړ شخصیتونه په بېلا بېلو وختونو کې شهیدان کړای شول، زندانونه ددې حرکت پر غړیو ډک کړای شول، خو هغه غږ چې د غلي کولو هڅې یې کېدې، لاپسې زور واخست؛ ځکه دا د حق چغه وه او د باطل په فشارونو نشوای غلی کیدای. دی حرکت له عربي نړی نه بهر هم غزونې وکړې او د دنیا ګوټ ګوټ ته ورسېد.

کله چې د استعمار او استعمار د لاسپوڅو ټولې مذبوحانه هلې ځلې بې نتیجې او د اوبو د سر ځګ ثابت شو؛ نو یوه بله توطیه یې پیل کړه او هغه دا چې د اسلامي حرکتونو پر سپین وچولي، د «ترهګرۍ» او «افراطیت» تور داغ ولګوي او ځان ته دهغوی د ټکولو له پاره پلمه په لاس راوړي، حال دا چې اسلام د اعتدال دین دی او افراط او تفریط دواړه یې رد کړي دي، په ټولو اسلامي تعلیماتو کې به څوک یو مورد هم راپه ګوته نه کړي چې یا یې خپلو پیروانو ته د افراط لارښوونه کړی وي یا د تفریط.

اوس یو شمېر د نیشنلزم په نامه د عصبیت د پریوتو ذهنونو خاوندان دې ته د خوشحالۍ وزرونه ټپوي چې ورځه اسلامي حرکتونه خو، د ترهګرۍ او افراطیت په نامه د نړیوال استعمار له خوا وټکول شول؛ نو دا تشه به موږ ډکوو حال دا چې ډرا یو ډېر ناسم فکر دی او له واقعیتونو سره اړخ نه لګوي. تاسې اصلی تفاوت ته ځیر شئ. نیشنلزم یا قوم پالنه بشري ټولنه د تجزیې خواته بیایې، د کرکې او نفرت درس ورکوي؛ خو اسلام بیا د وحدت، وروروګلوۍ، رواداری، محبت او مینې درس ورکوي چې د اسلام د قوت او بقا، یو ستر راز په همدې کې نغښتی دی یا په بله وینا اسلام د «وصل» دین او نیشنلزم د «فصل» تګلاره ده.

او د مولانا جلال الدین بلخی په وینا:

ما برای وصل کردن آمدیم
نی برای فصل کردن آمدیم

نو اسلام ژوندی دی او ژوندی به وي؛ ځکه د اسلام ستر پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) فرمایي:

«الاسلام یعل ولایعلی علیه»

اسلام برلاسی دی او هېڅوک پری برلاسه کیدای نه شي، که کله مسلمانان تر فشار لاندی راځي دا یو الهي ازمېښت دی او باید پر خپلو عملونو بیا کتنه وکړي او نیمګړتیاوې اصلاح کړي.

پر سپي د ولسي جرګې د تالار پلټل او د وکیلانو غوسه

محمد خلیل

د شنبې په ورځ ولسي جرګې تالار ته د ولسمشر د لومړي مرستیال، محمد قسیم فهیم د ورتګ په موخه پر سپي ددې جرګې د تالار پر پلټلو د ولسي جرګې یو شمېر غړیو سختې نیوکې وکړې او دا یې د ملت د کور سپکاوی وباله. د ولسي جرګې غړي رمضان بشر دوست وویل: د ولسي جرګې سپکاوی د ټول ملت د سپکاوی په مانا دی. هغه زیاته کړه که د ولسمشر مرستیال ته د امنیت له پاره دومره تدابیر نیول کېږي؛ نو د ملت استازي خو هم د ارزښت وړ دي.

پر سپي د ولسي جرګې تالار پلټل که په دې مانا واخستل شي چې د تخریبي کړنو مخه ونیسي؛ نو بیا د نیوکو هېڅ اړتیا نشته. ځکه چې دلته اصل مقصد د تخریبي کړنو مخنیوې و. او دا د هر افغان غوښتنه هم ده چې له هرې لارې وي د تخریبي کړنو مخه ونیول شي. او که نیوکه په دې خاطر وي چې که د ولسمشر مرستیال ته د امنیت له پاره دومره کلک تدابیر نیول کېږي؛ نو د ملت استازو او ولس د امنیت لپاره دې هم همداسې جدي اقدام وشي دا نو بیا پرځای نیوکه ده. ځکه چې په افغانستان کې د هر اوسېدونکي ژوند او عفت ارزښتناک دي؛ خو د حکومت د نه پاملرنې له کبله هر چېرته له جدي خطر سره مخ دي. افسوس په دې نه دی پکار چې د ولسي جرګې تالار پر سپي ولې وپلټل شو؛ بلکې پدې افسوس پکار دی چې اشرف المخلوقات انسان په ځانګړی ډول مسلمان ولې دومره بې اعتماد او وروسته پاتې شو چې پر هغوی د باور پرځای پر سپي زیات باور کېږي؟ ددې پرځای چې د تلاشی او پلټنې لپاره د سپیانو په کارولو غوسه ښکاره شي. پکار دی چې هر افغان د خپل ځان په اړه پوښتنه وکړي او په دې خبره ځان پوه کړي چې له مانه زیات پر سپیانو ولې زیات اعتماد او باور کېږي؟ ځواب ځرګنده دی هغه دا چې سپي پخپل ماموریت کې ټګي نه کوي. ځکه خو چوپانان او یا له کلي نه ګوښه اوسېدونکي د خپلو مالونو او کورونو د ساتنې له پاره سپیان ساتي، ډېر د ښکار شوقیان هم د ښکار د نیولو او پیدا کولو په موخه ښکاري سپیان ساتي، او د دا ډول سپیانو ساتل د شریعت په رڼا کې هېڅ ګناه هم نه لري؛ ځکه چې په قرآن کریم کې په ځرګندو ټکو کې ویل شوی دی چې کومو سپیانو ته د ښکار تعلیم ورکول شوی وي دهغوی د ښکار شوي ځیز خوړل ستاسو له پاره روا دی. په شریعت کې د مالونو، فصلونو او د کورونو د ساتنې لپاره د سپیانو ساتلو ته هم بشپړ جواز ورکول شوی دی او هېڅوک نشي کولې چې ورته ناروا ووایي. که چېرته له سپي نه د ښکار او د مالونو او کورونو د حفاظت لپاره کار اخستل څه ګناه نه لري؛ نو د پلټنو په څیر په سختو کارونو کې له سپیانو نه ګټه پورته کول هم څه ګناه نه لري. البته د سپي په ذریعه د یو مسلمان داسې تلاشي اخستل چې سپی د انسان تلاشي واخلي په دې خاطر کریه او بد ګڼل کېږي چې د سپي خوله نجسه ده، او په دې سره د یو مسلمان جامې ګنده او بې لمانځه کېږي؛ خو په مطلق ډول د سپیانو په ذریعه د کورونو، تالارونو، پاټکونو، موټرو، لویو ګاډو او نورو مشکوکو ځایونو تلاشي ته د ګناه په نظر کتل او هغه د انسان توهین ګڼل هېڅ شرعي صبغه نه لري. ځکه چې په دې سره له سپي نه د انسان په ګټه کار اخستل کېږي نه د سپي په ګټه چې د انسان سپکاوی وربانديې وشي. د بېلګې په توګه په افغانستان کې لکونه فرش شوي ماینونه تراوسه د سپیانو په ذریعه ویستل کېږي چې لکونه انسانان له مرګ څخه ژغورل شویدي.

پاتې شو د معترضو وکیلانو دا نیوکه چې ولې د ملت کور پلټل شوی؛ دا خو په ولسي استازو د حکومت پر بې باوری دلالت کوي، که څه هم وکیلانو دا نیوکه تر یوې کچې پرځای بریښي. خو که ژور فکر وربانديې وشي؛ نو ضرور دا واقعیت ترلاسه کېږي چې په افغانستان کې پر یو بل د بې اعتمادی یقین ځکه راپیدا شوی چې دلته هر چا پر بل اعتماد کړی هغه ته د اعتماد ځواب په خیانت ورکول شوی همدا د خیانت وجه ده چې دی.

په هره اداره او ارګان کې فساد خپل آخري کچې ته رسیدلی او د نړۍ په سر افغانستان د فساد لومړنی مقام ګټلی دی، کله چې د هېواد حالت تر دې حده د فساد په زهرو ککړ وي، هلته بیا څوک په کوم دلیل د اعتماد خبره کولې شي؟ په یو هېواد کې بې باورې او بې اعتمادي هله خپلې جرړې مضبوطوې چې هر وخت له اعتماد کوونکې سره خیانت وشي، له بده مرغه په افغانستان کې ټول عمر هر اعتماد کوونکی ضربه خوړلی. ځکه خو یو معمولي خریدار هم په شلو او دیرشو دکانو کې بیه کوي او د مال نوعیت معلوموي. فلهذا هر څوک چې پر چا بې اعتمادي کوي او د شک په سترګو ورته ګوري حق په جانب دی. که موږ واقعاً د چا پر بې اعتمادي او شک خفه کېږو او دا د خپل ځانو لپاره ذلت ګڼو، نو لدېنه د خلاصون لاره دا نه ده چې پرخلاف یې خپل قهر او غوسه ښکاره کړو؛ بلکې د خلاصون معقوله لاره یې داده چې موږ هر یو د خپل اسلامي قانون د لارښوونې په رڼا کې د ژوند په هر ډګر کې د بې اعتمادی هغه لاملونه له منځه یوسو چې بې اعتمادي پیدا کوي او د مسلم هغه تعریف پر ځان عملي کړو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی دی او فرمایلي یې دي چې مسلمان هغه څوک دی چې دهغه د ژبې او لاس له شر نه خلک محفوظ وي. موږ به د سپیانو له پلټلو او پر یو بل له بی باورۍ څخه هله نجات بیا مومو چې واقعاً د خپل انساني کرامت او ارزښت د ساتلو ژمنه پخپله وکړو، هغه داسې چې د یو اشرف المخلوقات په توګه له ټولو هغو کارونو څخه په کلکه ډډه وکړو چې له انساني کرامت او اسلامي ارزښتونو نفی کوي او د انسان حیثیت تر دې راټیټوي چې ان پر هغه د اعتماد او وفا پرځای د سپیانو وفا او اعتماد ته اړ کېږي.

شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان خپرونکی ارګان

خپرونکي اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه ستردیږي. بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

ډیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه، کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

کامرون: موږ باید د ناټو د ماموریت هدف په پام کې وساتو

د بریتانیا چاپ اندیپنډنټ ورځپاڼې په خپله پرونۍ ګڼه کې د دې هېواد د صدراعظم ډېویډ کامرون هغه پیغام خپور کړی، چې د کرسمس یا د عیسویانو د اختر په مناسبت یې په افغانستان کې ډېره خپلو سرتېرو ته ور کړی دی.

کامرون په خپل پیغام کې بریتانوي سرتېرې چې په افغانستان کې پوځي ماموریت ترسره کوي، ستایلي او دوی ته یې د دوی د ماموریت هدف وریه یاد کړی دی.

ورځپاڼه لیکي:

ښاغلي کامرون تېره اوونۍ په هلمند کې بسشن پوځي کمپ ته لاړ او دا یې درک کړه، چې له بریتانیا څخه د دوی د هغو سرتېرو ملاتړ څومره مهم دی، چې له خپلو کورونو لیرې د کرسمس پر مهال هم خدمت کوي.

د بریتانیا صدراعظم ټینګار کړی، چې د بریتانیا ټول جنګي ځواکونه به د راتلونکي کال تر پای پورې له افغانستان څخه ووځي.

اندیپنډنټ ورځپاڼې د ښاغلي کامرون دا خبرې هم رااخیستي چې ویلي یې دي:

"سمه ده، چې موږ تر شا یو مناسب هېواد

او مناسبه ډیموکراسي نه پرېږدو، افغانستان ډېر نېستمن هېواد دی او لانجمن تاریخ لري"

خو کامرون ویلي:

موږ باید د ناټو د ماموریت هدف په پام کې وساتو. د ده په خبره، موږ به دا هدف ترلاسه کړو، چې افغان قواوې په خپلو پښو ودرېږي او افغانستان بیا د تروریستانو په مرکز بدل نه شي.

امریکایي خپرونې شارلټ ابزرور بیا د امریکایي پوځي، تورن مایکل هبلي خبرې رااخیستي چې تازه له افغانستان څخه خپل کور ته ستون شوی دی.

ده ویلي، په افغانستان کې یې د موټرو پر کاروان دوه ځلې بمي چاودنې وشوې، خو دوی ته جدي زیان وانه وښت.

یوه اوونۍ وروسته له هغه چې دغه امریکایي پوځي او ځلوېښت تنه نور ملګري یې له افغانستان څخه ستانه شول، د ساوت کارولینا ایالت والی چې د دې پوځي مېرمن ده، نیکي هبلي او خپله هبلي له رسنیو سره خبرې وکړې.

شارلټ ابزرور د تورن مایکل هبلي دا خبرې رااخیستي چې ویلي یې دي:

ده د وېرې احساس نه کاوه، خو بیا هم له ځینو سختو شیبو سره مخامخېدل، مثلاً د سړک غاړې بمونه.

خپرونه لیکي:

د مایکل هبلي قطعې د زراعتي ملاتړ د ډلې د یوې برخې په توګه د افغان کروندګرو مرسته کوله، چې د کوکنارو پر ځای نور ګټور بوټي وکري.

په مطلب کې راغلي، د هلمند اقتصاد په کرنې متکي دی، طالبان او القاعده د کوکنارو د کښت له درکه زیاته برخه پیسې ترلاسه کوي.

راتلونکي ټاکنې به له مهال وړش ...

د افغانستان ټولو خلکو ته داد ورکړ چې کولای شي په خوندي توګه په ټاکنو کې برخه واخلي.

نوموړي وویل چې د ټاکنو د امنیت په اړه به خپل معلومات د مرغومي په ۱۵ نېټه د ټاکنو له کمېسون سره شریک کړي.

خو د افغانستان د ټاکنو کمېسون وایي دوی د امنیتي اندېښنو له امله تر اوسه نه دي توانېدلي چې د افغانستان په څلورو هغو ولسوالیو کې پر خلکو د رایو کارتونه ووېشي چې ویل کېږي د نفوسو له کبله ډېر وګړي به کې ژوند کوي.

د کمېسون ویاند نور محمد نور وایي که چېرته امنیتي ځواکونه دوی ته په دغو ولسوالیو کې امنیت خوندي کړي دوی چمتو دي چې ژر تر ژره په دغو ولسوالیو کې پر خلکو د رایو کارتونه ووېشي.

که څه هم په افغانستان کې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټاکنو د تر سره کېدلو په اړه لا له وړاندې اندېښنې زیاتې وې اوس دغو ټاکنو ته د وخت په لنډېدو سره یو ځل بیا دغه اندېښنې مخ په زیاتېدو دي.

ځینې خلک وایي دغه ټاکنې داسې مهال تر سره کېدونکې دي چې هوا به خوړا سړه وي او کېدای شي د افغانستان ځینو برخو ته هغه توکي به خپل وخت و نه رسېږي چې د ټاکنو لپاره اړین دي.

افغان چارواکي وایي هوډ من دي چې دغه ټاکنې به په خپل وخت ترسره شي، خو په هغو ولسوالیو کې د دغو ټاکنو د تر سره کولو په تړاو له ډېرو ویلو په ځنګ تېرېږي چېرته چې یا وسله وال طالبان یې پر ډېره برخه واکمن دي او یا هم په هغو سیمو کې چې خلک له طالبانو نه په وېره کې دي.

دکتور عبدالله عبدالله در جایگاه نخست...

که ۱۰۴ روز به انتخابات ریاست جمهوری مانده است. (اعتبار از روز نظرسنجی)

برنباد این نظر سنجی، داکتر عبدالله عبدالله با ۲۷ درصد آرا در صدر این فهرست قرار دارد. بیشتر حامیان وی را زنان و شهر نشینان می سازند.

در نظر سنجی دو ماه پیش آقای عبدالله ۲۱ درصد گفتگو کننده گان آقای عبدالله را انتخاب کرده بودند.

بربنیاد این نظر سنجی، هدایت امین ارسلا با صفر اعشاریه یک درصد و داوود سلطان‌زوی با صفر اعشاریه چهار درصد در پایان نام نامزدان دیگر دیده می‌شوند.

اشرف غنی احمدزی که در جایگاه چهارم در انتخابات گذشته قرار داشت، در این نظرسنجی ۱۹ را از آن خود کرده است، درحالی که در نظر سنجی دو ماه پیش کسانی که داکتر اشرف غنی احمدزی را انتخاب کرده بودند، به ۶.۱۳ در صد می رسیدند.

بربنیاد این نظر سنجی بیشتر کسانی که آقای اشرف غنی احمدزی را برگزیده اند، مردان هستند و بیشتر کسانی که داکتر عبدالله عبدالله را برگزیده اند، زنان استند.

کابل:

بربنیاد این نظر سنجی داکتر عبدالله عبدالله در کابل ۲۷ درصد، داکتر اشرف غنی ۲۲ درصد و قیوم کرزی با ۴ درصد از درجهٔ نخست تا سوم استند.

بخش های مرکزی:

دربخش‌های مرکزی داکتر عبدالله عبدالله با ۲۶ درصد در صدر است و داکتر اشرف غنی احمدزی با ۱۶ درصد دوم و عبد رب الرسول سیاف با ۵ درصد سوم است.

شمال:

در ولایت‌های شمالی کشور داکتر عبدالله عبدالله بیشترین درصدی را دارد و با ۳۳ درصد در صدر است و پس از آن داکتر اشرف غنی احمدزی با ۲۳ درصد دوم است و زلمی رسول نیز با ۳ در صد سوم است.

غرب:

بیشترین نظر در بارهٔ داکتر عبدالله عبدالله نسبت به ولایت‌های دیگر در ولایت های غربی کشور است، آقای عبدالله با ۳۸ درصد در نخست و داکتر اشرف غنی احمدزی با ۱۴ درصد دوم است و عبدرب الرسول سیاف با ۹ درصد سوم است.

جنوب:

در ولایت‌های جنوبی کشور داکتر عبدالله عبدالله در نُخست است، اما فاصله میان نامزد دوم و سوم بسیار اندک است، داکتر اشرف غنی احمدزی با ۱۲ درصد دوم است و قیوم کرزی با ۱۱ درصد سوم است.

اما داکتر اشرف غنی احمدزی در شرق کشور بیشترین نظر را نسبت به بخش های دیگر کشور از آن خود کرده است.

در ولایت های شرقی داکتر اشرف غنی احمدزی با ۳۱ درصد در صدر قرار دارد و داکتر عبدالله با ۱۴ در صد دوم است و رحیم وردک با هفت در صد سوم است، در این بخش‌ها گُل آغا شیرزی و قیوم کرزی با فاصله، اندک با رده سوم، چهارم و پنجم استند.

در این نظر سنجی نشان می‌دهد که با نزدیک شدن زمان انتخابات علاقه مندی مردم نیز به نامزدان بیشتر می‌شود، چنان که بیشتر مردم به نامزدان مشخص انتخاب کرده اند.

امریکا د امنیتي سند مهم ...

چې اوس هم د کابل او واشنګټن ترمنځ د دغه سند پر سر خبرې روانې دي چې توپیري مسئلې حل کړي.

ولسمشر کرزي وویل "د امنیتي سند لاسلیک لپاره دې امریکا په عملي ډول د سولې بهیر پیل کړي او کله چې دغه شرط ومنل شو، نو دواړه هېوادونه به دغه سند لاسلیک کړي".

د بي بي سي خبریال حفیظ الله معروف چې په دغو ژړدي دري ساعته خبرو کې یې برخه اخیستې وه په خپل رپوټ کې وایي، د ښاغلي کرزي ټینګار تر ډېره پر دې و، چې که د سولې عملي بهیر پیل نه شي، نو په افغانستان کې دامریکایي ځواکونو پوځي اډې د افغانستان راتلونکي لپاره خطرناکې دي.

هغه په خپلو خبرو کې وویل چې دسولې بهیر پر پیل ځکه ټینګار کوي چې "په افغانستان کې د سولې لپاره دامریکا نیت معلوم کړي" ځکه د هغه په ټکو د واشنګټن پر نیت شک لري.

ولسمشر پخوا هم ویلي و، چې دی پر امریکا باور نه لري.

ښاغلي کرزي پرته له دې چې نوم یې واخلي وویل، یوه امریکا یي چارواکي ورته ویلي وو چې طالبانو ته دې د افغانستان ځینې سیمې ورکړي او بیا دې له هغوی سره د سولې خبرې وکړي.

له ولسمشر کرزي نه په دغه ناسته کې بیا بیا دا پوښتنه کېده، چې که امریکا له افغانستان خپل ټول ځواکونه وباسي نو وېره نه لري، چې په افغانستان کې به یو ځل بیا د نویمې لسیزې په څېر جګړې پیل شي؟

د هغه ځواب دا و: "لومړی خو امریکا له افغانستانه د وتلو نیت نه لري، ځکه امریکا دلته د اوږدمهال لپاره راغلې ده. او بیا که امریکا وځي هم، افغانستان کې به د پخوا په څېر خلک ژوند کوي."

ښاغلي کرزي دارنګه وویل، چې امریکا په سیمه کې لوبې موخې لري او په ډېر داډ یې ویل چې امریکا له افغانستان دوتلو نیت نه لري.

ولسمشر کرزي له ژورنالیستانو سره په خبرو کې پر لوېدیځو او ځینو کورنیو رسنیو تور پورې کړ، چې د امریکا لپاره تبلیغ کوي او خلک وېروي چې که به افغانستان کې بهرنیان نه وي، کورنۍ جګړه پیلېږي.

هغه د رسنیو له کارکونکو غوښتنه وکړه، چې د هېواد ملي ګټې دې په پام کې ونیسي.

په ټوله کې ولسمشر کرزی هیلمن ښکارېده، چې شرطونه به یې امریکا ومني او دغه تړون به لاسلیک شي.

هغه ویل چین او هندوستان هم د دغه سند لاسلیک لپاره د ده د شرطونو ملاتړ کړی دی.

په دغو خبرو کې چې تر ډېره د افغانستان او امریکا ترمنځ په اړیکو ورتولې وې، ښاغلي کرزي دې ته هم اشاره وکړه، چې دغه سند د افغانستان د کابینې یو وزیر هم لاسلیکولی شي او د بېلګې په ډول یې ترڅنګ ناست د ملي امنیت مشاور رنګین دادفر سپنتا ته اشاره وکړه، چې دی یې هم لاسلیکولی شي.

خو ویل چې د دغه سند د لاسلیک لپاره واشنګټن ته نه ځي.

هغه مهال، چې په ارګ ماڼۍ کې له خبریالانو سره د ولسمشر کرزي خبرې روانې وې، دهغه امنیتي سلاکار رنګین دادفر سپنتا تازه د امنیتي سند په اړه د امریکا له استازي سره له خبرو راستون شو.

ښاغلي سپنتا د اشارې په ډول وویل چې د دوی په خبرو کې، د سولې بهیر د پیل په اړه د ولسمشر کرزي په شرط کې هم پرمختګ شوی خو ډېر جزییات یې ورنه کړل.

صدراعظم ترکیهٔ می گوید، دست ...

استعفای حکومت اردوغان بودند، از گاز اشک آور و توپ های فشار آب استفاده کرد. تعدادی زیاد مردم برضد یک پروژه، بزرگ انکشاف شهری به تظاهرات پرداخته، به رسم اعتراض به اتهامات فساد گسترده، رشوت در حکومت اردوغان، صندوق های پر از بوت را با خود حمل می کردند.

در یک نشانه، از خشم مردمی طرفداران تیم فوتبال غلطه سرای (Galatasaray) قبل از آغاز مسابقه، آن تیم در برابر تیم تربزون سپور (Trabzonspor) فریاد می زدند:

"همه جا رشوت است، هم جا فساد است."

در اثر تحقیقات ضد فساد که از هفته، گذشته به این سو جریان دارد، ۲۴ تن به شمول پسران وزرای داخله و اقتصاد حکومت اردوغان و مدیر عمومی بانک دولتی دستگیر شده اند.

براساس گزارش های مطبوعات محلی، پولیس همچنان ۴.۵ ملیون دالر پول نقد را ضبط کرده است.

رجب طیب اردوغان صدراعظم ترکیه این عملیات ضد فساد را که در آستانه، انتخابات شاروالی ها صورت گرفت، عملیات برای لکه دار ساختن حاکمیت خود دانسته، در پاسخ به آن ده ها پولیس به شمول روسای آن ها را به اتهام همکاری بدون مجوز با تحقیقات، از کار برکنار کرده است.

بر اساس گزارش رسانه های محلی، ۲۵ آمر پولیس از کار هایشان برکنار شده اند.

رجب طیب اردوغان صدراعظم ترکیه روز یکشنبه بار دیگر تلاش ها و ایتلاف های "کثیف بین المللی" را به ایجاد بحران در آن کشور متهم ساخت. رجب طیب اردوغان که حیثت اش در اثر تظاهرات ماه جون با خطر مواجه شده است، با آزمون انتخابات که در ماه مارچ سال آینده آغاز می شود، مقابل است.

رجب طیب اردوغان می گوید:

"به تاریخ ۳۰ مارچ ملت برنده خواند شد، دموکراسی برنده خواهد شد و ما متحد باقی خواهیم ماند."

رجب طیب اردوغان صدراعظم ترکیه که با شدید ترین رسوایی دوران ۱۱ ساله قدرتش مواجه است، امروز دوشنبه برای بهبود روابط به پاکستان سفر کرد.

ننګرهار کې د انسان تښتوونکو...

د دوی د تښتونې سیمې ننګرهار او لغمان وې.

د ملي امنیت له اداري خپره شوې وینا پاڼه وایي، چې نیول شوېو کسانو په لومړنیو پوښتنو ګروېږنو کې پر خپل جرم اعتراف کړی دی.

ملي امنیت وایي، د دغې ډلې غړو څه موده وړاندې د بلخ پوهنتون یو محصل تښتولی و، چې د خوشې کولو مقابل کې یې د هغه له کورنۍ دوه سوه زره افغانۍ اخیستې وې، او هغه یې بیا وروسته وژلی و.

ملي امنیت د نیول شوېو کسانو یوه ویډیو هم رسنیو ته ورکړې ده، چې د دغه محصل د تښتولو په اړه یې څرګندونې او اعتراف کړی دی.

که څه هم افغانستان کې د انسان تښتونو کره شمېرې نشته، خو په وروستیو کلونو کې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د انسان تښتونو پېښې ډېرې شوې دي.

د انسان تښتوونکو هڅو ته وروسته تر هغه ډېر پام وشو، کله چې په هرات کې یو اته کلن ماشوم وتښتول شو او بیا په بې رحمانه ډول ووژل شو.

همداشان، سږ کال اوړی په نارامه غزني ولایت کې له کندهار ولایته په ولسي جرګه کې استازې فریبا کاکړ هم وتښتول شوه، چې بیا وروسته راخوشې شوه.

وړاندې، د افغانستان د ملي امنیت اداري ویلي وو، چې یو ترکي سوداګر یې په کابل کې د تښتوونکو له منګولو خلاص کړی، خو تښتوونکي یې تېښته بریالي شوي وو.

افزایش علاقه‌مندي مردم ...

بر اساس مصاحبه با ۲۵۰۰ نفر در ۳۴ ولایت افغانستان انجام داده و گفته که ۸۵ درصد مصاحبه‌شوندگان گفته‌اند در انتخابات آینده شرکت خواهند کرد.

یاسین حسینی از مسئولان این موسسه به خبرنگاران گفت که با وجود این علاقه‌مندی، ۷۷ درصد مصاحبه‌شوندگان به شرکت در انتخابات نا امنی را بزرگترین تهدید در برابر انتخابات دانسته‌اند، اما برای ۴۶ درصد دیگر وضعیت امنیتی در روز انتخابات غیرقابل پیش‌بینی است.

آقای حسینی گفت: "وقتی پرسیدیم که آیا انتخابات شفاف خواهد بود یا خیر؟ ۹درصد گفتند که اصلا شفاف نخواهد بود، ۴۸ درصد گفته اند تا حدودی شفاف و ۱۴ درصد دیگر گفته اند انتخابات کاملا شفاف خواهد بود و ۲۸ درصد گفته اند چیزی در مورد شفافیت انتخابات نمی‌دانند".

در این نظرسنجی همچنین ۳۳درصد شرکت کنندگان گفته‌اند که افغانستان در مسیر درستی در حرکت است و اجرای برنامه‌های بازسازی و زمینه سازی برای آموزش دختران و بهبود امنیت را دلیل این امر دانسته‌اند.

برعکس ۲۱ درصد دیگر از مصاحبه‌شوندگان گفته اند که به دلیل وجود ناامنی، حکومت‌داری ضعیف و فساد، افغانستان در مسیر نادرستی به پیش می‌رود.